مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر رحمت ربی ځيرک يار ۲۰۱۸/۱۱/۲۹

# پلوراليزم + سيکولريزم = د اسلام پرمختيا
# د دستورالمدينې په رڼا کې
(لسمه برخه)

## سيکولريزم په پښتو او فارسي شعر کې

ځينو مسلمانانو سيکولريزم رټلی دی په دې مانا چې ديني نفوذ او دولت دي په عامه چاپېريال کې برلاسي وي. خو له دې هم سترګې نشو پټولی چې لږ تر لږه سيکولر تفکر او علاقمندی له مينځنيو پېړيو راهيسې په اسلامي نړۍ کې چلن لاره، په ځانګړي ډول په شعر کې.

سيکولريزم نه يواځې دين او دولت جلا کوي، بلکې خپلواکې مدني ټولنې ته لار پرانيځي. جان ل. يسپوزيټو او اعظم م. تميمي په خپل ګډ کتاب کې (اسلام او سيکولريزم په مينځني ختيز کې. نيويارک يونيورسټي پريس، ۲۰۰۰) کاږي چې سيکولريزم په اسلامي نړۍ کې مطلق العنان رژيم ته لار پرانيځي. زما(ځيرکيار) په آند، د اسلام له نظره د ديني او دُنيوي(سيکولر) پوهې په مينځ کې بېلوالی نشته ځکه چې ټوله پوهه په اسلام کې پېژندل شوې ده. خو لکه چې وينو اسلامي نړۍ له «۹۱۱» (اسپتمبر ۲۰۰۱) راهيسې ډېره ګرېدلې ده او«سلطاني جمهوريتونه» يې بې کيفيته او بې کفايته شوې دي.

### (الف) سيکولريزم په پښتوشعر کې

يوځومياشتې وړاندې، په لرافغانستان کې زما د ليکنو يو لوستونکي پوښتلی وم چې زه (ځيرکيار)د پښتو شعر سره څه ناخه راشه درشه لرم؟ خو دا چې زه نوکې ګرېدلی يم، زما هېره شوه چې د پوښتنې غبرګون ورکړم. اوس چې په پښتو شعر کې د سيکولريزم شتون ته راورسېدلم، ذکرشوې پوښتنه مې فکر ته راغله.

هو، پښتو شعر زما د ارامۍ يو کوټلی روحي ګلبڼ دی چې د ټول افغانستان غملړلي پښې پکې د شعور سمڅي(تحت الشعور) ته ورټېله کوم! کور دې د پوهاند رښاګل آريوب زي آباد وي چې له جرمني نه راسره هره مياشت يوځلي د سکايپ له لارې يو-دوه ګېڼتې ګټور بحث کوي، بې له دې چې د چا غيبت وکړي.
شعرهغسي هنر دی چې د واقيعت تصور پکې خاپوړې کړې وي. شعر يو ډول ټنګ ټکور دی چې قافيه او غږ پکې لاس په لاس روان وي. زه چې ډېر ستړی شم، دمه ځای مې د يو چا شعروي،ځکه چې شعريو ډول ذهني تصوير انځوروي، په شعور باندې آراموونکي اغيزاچوي، او احساس او فکر د يوبل سره جرګه کوي. په شعرکې د روح تجربې غلې شوې وي.
شعر يو ډول انارشيزم(خپلسرتيا) دی چې د ژبې قواعد نه مني، يعنې شعر خپل سری شهزاده دی. شعر زما ټولنيزه او احساسي غلبه غښتلې کوي او د فشار او کړاو په مهال زما د روحي ارامۍ د سروېږدي رول لوبوي. شعر زما د روحي زوبړګي دمه ځای دی. زه شاعر نه يم، خو په شعر کې د ماشوم په څېر يو پټ ځای لټوم. شعر زما د ستړي شوي فکري قدرت دمه ځای دی.
شعر د الفاظو يو منډلی شکل دی چې په هر لفظ کې يې معنا ټوپونه وهي او له دې امله بايد په ډېره پاملرنه و لوستل شي اوغوږ ورته ونيول شي. زه چې د باچاخان د مشر ځوی غني خان شعر لولم، فکر کوم چې له ګناه لوړ يم. زه چې د حمزه شينواري او رحمان بابا شعرونه لولم، په فکر کې دومره ډوب شم چې بنايي د هسک ښختن وينا به په پښتوکې اورم. زه چې د ګل پاچا الفت شعر لولم، فکرکوم چې شعور به مې د عدالت مېلمه شوی وي. زه چې ډېر ستړی شم، د استاد اولمير په درانه غږ کې د شهيد امان الله سېلاب ساپي دا شعر زما ستړتيا وباسي:
ستا د سترګوبلا واخلم بيا دې سترګې ولې سرې دي
پام چې وار دې خطا نه شي ما منلې غرغرې دي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

## (۱) لنډۍ د پښتو شعر او سیکولریزم مور ده

لنډۍ، ټپې او ټکی له دوه بندونو(۲۲ سپلابونو) نه جوړېږي، خو د پېل، شمېر او شاعرۍ یا شاعر په اړه یې معلومات نشته. دپلوم انجینر عبدالکبیر کاکړ کاږي چې ټپې، لنډۍ یا ټکی د «ویدي سندرو سره پېل شوې دي چې لږ تر لږه څلورنیم یا پینځه زره کالونو ته یې عُمر رسېږي.»لاندې به ځینې ټپې معرفي کړم:

اوبه د بر ګودر خوړې دي    زه د جانان لپاره کوز ګودر له ځمه
اور چې بلېږي آخرمړ شي    د مینې اور سړی ترعُمره سوځوینه
یارمې هیندو زه مسلمان یم    د یار لپاره درمسال جارو کومه
طالبه خدای که خو مُلا شې    په کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه
په سپینه خوله کړه روژه ماته    د کفارت روژې به دواړه ونیسونه
جانان په ټوکه نه پوهېږي    ما په خورو زلفو واهه مره وَر شونه
د مازیګر ګودره وران شې    په خندا درشم په ژړا درنه راځمه
په ګودر څه ټکه لوېدلې    چې کشره خوریې بدرګه ورسره ځینه
په نیمه شپه مې خوب ته راغلې    لکه یتیم مې تر سبا ژړلې دینه
خبرمې مې یارته نه رسېږي    لار کې پېرې د ببلتانه ولاړې دینه
نن په خیبر د ځلموجنګ دی    خوشحاله پاڅه چې مُغل راغلي دینه
که په میوندکې شهید نه شوې    خدایګو لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه

دپلوم انجینرعبدالکبیر کاکړ

www.esalat.org(24 December 2009) [10 February 2018].

جانان په هېڅ نه رضاکېږي    د دروغجن مُلا دې ورک شي تاویزونه
جانان ځما زه د جانان یم    که په بازار مې خرڅوي ورسره ځمه
جانانه راشه دادې وخت دی    پلار مې د سر سودا د بل سره کوینه

Kabuluniversity.wordpress.com (31-7-2010) [10 February 2018].

چې په ژوندون مې په کارنشوې    که مې د قبرمنجورشې څه دې کړمه
خال به د یار له وینو کېږدم    چې په شین باغ کې ګل ګلاب وشرموینه
خاونده ټوله مې ترې زارکړې    زما په سریې غرغرې منلې دینه

Helalbelal.weebly.com(Pashto) (No Date) [10 February 2018].

[دلبونی حاجت پوره شو    په لاروځي په کاڼو ولي زیارتونه]
ځیرکیار

ښایي دا ټپه/لنډۍ به د لر افغانستان د دیر او سوات په سیمو کې رامینځته شوې وي. ځکه چې هلته د«پیربابا» په نوم مشهور زیارت و: پېغلې به دغه زیارت ته ورتللې چې که ځوان مېړه یې په برخه شي، او ځوانانو به د پیربابا له زیارت نه د ځواني ښځې هیله لرله؟
ټپې، لنډۍ یا ټکی د پښتو ځانګړې شعري څېرې دي، خو ځانګړی شاعر نلري او ځکه یې شاعر هم معلوم نه دی. دا چې شاعریې معلوم نه دی، د ویلواو لیکلو نېټه یې هم معلومه نه ده. پوهندوی آصف بهاند لیکي چې د«لنډۍ د پیدایښت پېلامه تراوسه نه ده معلومه او داسې برېښي چې تر اسلام د مخه د پښتو د زړو هیجایي شعرونو یادګار پاتې شوی وي...»(«د لنډۍ ها»[د لنډیو] ټولګه او پوهاند رحیم الهام»،۱۲برخه[محمد رحیم فضلي/الهام په خټه مورچه خېل مومند و]:

Taand.com (October 29, 2015) [February 11, 2018].


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوهندوی بهاند د پوهاند الهام په لیکنه کې دوه ټپوته ګوته نیولې ده:

بـېـګا مـې يـارسره وعـده وه | د لاس بنګړي مې په لـتو تـړلـي ونـه
ديـدن پـه لـک، خندا په زر ده | د سپيني خولې قيمت به نـه مالوموه

ښواند آصف بهانـد د ښاغلي راز محمد نـورزي پکتیا وال(ترتیـبوونکي) کتاب راپېژني: پښتولـنډۍ، مصري، ټپې،۲۰۱۶. له دغه کتاب نه د بهاند دا اقتباس پام وړ دی: «د پښتو لنډیو ژوند څلورنیم زرو کلونو ته رسېږي، له استاد حبیب الله رفیع سره د ښاغلي هارون حکیمي د مرکې متن» چې په خوست ویب پاڼه کې «خپره شوی ده». د پښتو لـنډیو د څلورنـیم زره کلن ژونـد خـبـرتـه زما(ځیرکیار) خوله ګوړې-ګوړې شوه. خو شکمن شوم چې له نن نه څلورنیم زره کالونه وړاندې به کوم هوښیار پښتون د هغه مهال په سـویه، د کومې وسپنې یا کلکې ډبـرې په واسطه په کومه پلنه ډبره کومه پښتو لنډۍ لیکلې وي؟!

همورابي په میزوپوتامیا (اوسني عراق) کې د ښاري دولت واکمن (پاچا) و:له ۱۷۹۲قبل المیلاده تر ۱۷۵۰ قبل المیلاده(یانې ۳۷۶۸کالونه وړاندې). هغه په غټ او جګ کمر کې د مجازاتو قـانون په ۲۲۲مادو کې ولیکه چې په جنایتونو راڅرخېدلې. وړاندې له دغه اساسي قانون نه، قانون هغه څه و چې واکمن، والي یا عسکر به ولس ته امرکاوه. پښتو زموږ ژبه ده، توپیر نلري چې څوانه ده یا زړه. ژبه پخپله نه ارتیږي. باید پښتون پـوهان او ژمن واکمنان يې ارته کړي. د زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ څما برېښنايیزکتاب:رحمت زیرکیار، ژبه له بابا ادمه تر دي دمه، ۲۰۱۰. که څوک دغه کتاب غواړي، ماته دې ایمیل راولیږي.
غرنئ اوپخوانئ لنډۍ د یویشتمې پیړۍ په پیل کې د بانـډې، کلي او درې له تنګ چاپیریال نه کډواله شوه او په یو دبلې کې دېره شوه چې کمپیوټر(شمېرونکی) ورته ویل کېږي. افغان مېرمنې غواړي چې د سولې په خبرو کې ګډون وکړي. لنډۍ د ښځینه پښتنو د پاڅون پټه ښکارنده(پدیده) ده، د پاڅون ستېچ يې دی، او د احساس او قهر د ارمولو لوښی يې دی. که پخوا په کابل کې «مېرمنو تولنه» شته وه، اوس هلته «مېرمن بهیر» لري. ولولئ:

Hannah Ellis-Petersen, “Love, Poetry and War: the Afghan women risking all for verse” (theguardian.com U.S. edition; 5 June 2015) [April 25, 2018].

**(۲) سیکولـریزم د امان الله سـېلاب ساپي په «کـنـډولي» کې**

سیلاب ساپي چې د مـرزا نصرالله ساپي زوی او د عـبدالغـفور لمسی و، د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالي په غازي کلي کې په ۱۳۱۲لمریز کال [جولای ۱۹۳۳زیبز؟] کې زېږېدلی و.په ۱۳۳۶لمریز[۱۹۵۷زیبز]کې يې په کابل کې دارالعلوم بشپړکړ او په کابل کې د رسمي -کلتوري خدمتونو پالـنـدوی شو.د شعـر کوټلی استعداد يې لاره. شعرونو يې د ټنګـټـکور(موسیقي) سره یارانه لرله او له دغې لارې يې په لراوبر افغانستان کې د هېوادوالانو زړونه تخنول. د سېلاب ساپي شعر د دې تومنه لرله چې نـړیوالـې ژبې (ټنګټکور/موسـیقي) ته ورننوځي. سېلاب ساپی تکړه او ویښ ملي او فرهنګي شخصیت و. هغه په دې پوهېده چې شـعریـې احساس نـخـوي او له مینې ډک شعور راولاړوي. زه د منلي الله نور سېلاب منندوی یم چې د پلار «کـنـډولی» يي زما (ځیرکیار) سـره شـریک کـړ. هـغه درونـد کـنـډولی چې د ټـول افغـانسـتـان په مینـه، هـېوادوسـتـې، خـپلواکې، پرمختګ او سـوکالـی ډک و! اوس به لوستونکي د سېلاب ساپي د شعـر هـغې نازک خیالی ته راوبلـم چې سیکولریزم پکې څرګنـدېږي:

**الف: د زړه قطرې**

ستا د سترګو بلا واخلم بیا دې سترګې ولې سرې دي
پـام چې وار دې خطا نشي مامنلي غرغرې دي
ستا د مینې خـزانـه بـس زمـا ژوند تـه بـهـانـه ده
ګوندي وخته ما لیدلې پخپل سرخاورې ایرې دي
نازولې لـیلا راشـه! د مجـنون ګـرېوان تـه ګـوره
دا بــاران د مـلغـلرو که د اوښـکو فـوارې دي
مخ دې بلې لمبې کاندي خوله دې ګل شي بیاغُنچه شي
څکه ماته ډېرې ګرانې د پتنګ بلبل نخرې دي
مبارک دې شه سېلابه! د وصال استازی راغی
د ریبارسره دې کړي اشنا نـوې مشورې دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

(کابل،باغوان کوڅه:۳تله ۲۵/۱۳۳۶سپتمبر ۲۹/۱۹۵۷صفر ۱۳۷۷).

**ب: د زړه غل**

ساقي کښېنه! جامونه د محفل مه يــادوه
د ميني لېونتيا تــه اوربل* مه يادوه
اشنا دي راسره وي په جونګړه کې د لوخو
همدا مي تاج محل دی، تاج محل مه يادوه
قسم دی که به روغ شم سمدستي لېونی کېږم
ځنځېرد تورو زلـفـو ول په ول مه يادوه
پـه سترګـومي لېدلو چې د بل پـه رضا لاړ
د زلفو په ځنګل کې د زړه غل مه يــادوه
سپلاب ته چي نصيب شـولو د مينې شهادت
عـاشق يي مسخره بـولي اجل مـه يـادوه
* وَربَل ؟

(کابل، نوی ښار)

**ج: ارزوګانې**

ډکـې چـې د مـينـې پـېمانې شـولې
بـيا طـلايــي زلفي زلـونـي شولي
تـا چې ورتـه ست په يــو نـظر وکـړ
اوښــکـې درروانــې مـېلمنې شولې
حُسن چـې اعــلان د استغنا وکــړ
نن مــې ارزوګــانې پښتنې شولـې
غړپ چي مي په برخه د کنډول شولو
ښـکته مــې نـظـر ته مېخانې شولې
پـــام کوه سـپـلابـــه! دلـته هـرقـدم
تـــاته سرې سکروټـې ترانې شـولـې

(ننګرهار،کامه:۱۳۳۶/۱۲/۸المريز)[۲۷فبروري۱۹۵۸=۷شـعبـان ۱۳۷۷سپوږميز].

**د: نازولې ارزو**

نـاڅاپه خوالـه شـالـيلا راغلـه
د نـــازه ډکـه پـــه خــنـدا راغـلـه

سالو نيم کښه د مستۍ په انداز
په هسکه غاړه بې پروا راغله

د نــازولــو ارزوګـانو سـره
پــه دلاسا په تـماشا راغـلـه

اوتـره شوخه د هوسۍ په سيالی
د مشغولا ځای ته پـه غلا راغله

ما وی چې نن يې څه نشه کړې ده
له خوبه ډکې سترګې بيا راغله

چې د نظر لينديې وروغـزېدې
سترګې مې ډکې شوې حيا راغله

ماوی لوګی شم! د نظره نـشي
دې وی بس دېـته مي سلا راغله

دلـته زړې توبې رايادې شوې
چې د پيالې دوره پــه ما راغله

د زلفو شپه چې شوه خوره سپلابه!
مخې ته سترګه د سبا راغـلـه

(کابل،څلورمه کارته: ۱۲ زمری ۱۳۳۸المريز)[۴ اګيست ۱۹۵۹=۲۹ محرم ۱۳۷۹سپوږميزکال].




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**هـ: [نازولي زما]**

مستي مغروري نازولي نازنيني زما
د زړګي سرد ستړګو تور خوري .......*زما
ته په مستۍ مستۍ په ناز او نخرو ژوند تېروه
پرې چي ستا غم کي زړه نه ښاخي توري ويني زما
ډېرې سلګۍ ډېري قيصي ډېري ګيلي مي وکړې
په پولادي زړه دې اثر ونکړو ميني زما
دا سوې کوکې سوې ساندې فريادونه تا ته
بس تولي توکې مسخري دي ماه جبيني زما
نه دي تسل نه دې ارام نه دې تسکين کړمه زه
ترخو به ژاړم ستا په مينه کي شيريني زما
ورځ په زارو شپه په ناروکي په سېلاب شي سبا
ستا انتظار کي شوې دا توري ستړګې سپيني زما

(پېښور،مال روډ:۱۷جدي۱۳۴۳لمريز)[۷جنوري ۱۹۶۵م/۴ روژه ۱۳۸۴]
*)په دغه تش ځاى کي به په کلتوري لحاظ د ميني په اړه کوم تېز لفظ کارول شوى و؟ ځيرکيار

نور بيا

Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ